# پښتو ادب کښې د مکالمه نويسۍ روايت

# The Tradition of Dialogue Writing in Pashto Literature

Dr Badrul-Hakeem Hakeemzai★
Dr Asal Marjan (Muhib Wazir)★★

**Abstract:**

The classic era of Pashto literature is proven rich in various aspects. One of its valuable is dialogue style of writing. This interesting and effective style is not only honoured in poetry but in prose too. Through this article it is strived to explore this style of writing in the said part of literature thouroly, which will help the students to get acknowledged widely and deeply about the classic period of Pashto literary works.

**Key Words :** dialogue, style, poetry,prose, classic

د پښتو ادب کلاسيکي دوره هغه شتمنه ادبي، فني او علمي پانګه لري چې هېڅ اړخ ئې له هېڅ توکي تشبانېے نۀ دے. د دې دورې نظم دے او که نثر، د ليک ډول او منځپانګې له مخه د سر لاري، سالارۍ او بې سارۍ دستار په سر لري. هم دا دوره ده چې د نثر ليکنې دود قدروي، پراخه، هنري او علمي کوي. خېرالبيان سنجوي او مخزن ته لارې سموي. دستارنامه، ګلدسته، فوائدالشريعه، تاريخ مرصع او ځينې نور نثرونه د پښتو ژبې او ادب د درخو د مخ خالونه جوړوي او نوے نثر ليکنې ته ټينګ بنيادونه ورکوي. ګڼ موضوعات د خوښو توکو په حېث په خپله لمن کښې رانغاړي او سمبالوي، لکه تصوف، شريعت، فقهه، تاريخ، ټولنيزه پوهنه او اخلاقي سمؤنه. د نظم برخه ئې لا په ښو ټکو د ستائيلو ده چې د پښتو ژبې او ادب مېرمن ته ئې له ملا ارزاني نه نيولې تر علي خان پورې نۀ ماتېدونکي پهلوانان نغښتې متې راويستي دي. دغو پياوړو ليکونکو پښتو منظوم ادب د فن، فکر او پېکر په حواله تر بامه خېژولے دے. په غزل، نظم، قصيده، مرثيه، قطعه، رباعي او نورو ګڼ شمېر منظومو توکو ئې خپل چاق قلم چلولے دے. هم دغه شان ئې پښتو شعر ته د بديع او بيان ښکلاګانې راوړې دي او په تېره ئې د موضوع او پېغام په ګانه پسلولے دے. د نورو فني او فکري ښېګړو تر څنګه د دې دورې په منظومو او منثورو اثارو کښې د اغېزمن او خوندور ابلاغ له پاره د مکالمې اسلوب هم پکار

★ Lecturer Pakhtunkhwa Study Centre BUC
★★ Director Pakhtunkhwa Study Centre BUC

راوستے شوے دے. کله لکه د الف نامو غونډې د تصوف د اسرار و رموز او د سالک د قلبي وارداتو او کیفیاتو څرګندؤنه په کښې شوې ده او کله د رومان او مینې جذبې په کښې زمزمه شوې دي. په پښتو ادب کښې د مکالمې لیکلو د روایت پېلامګر پیر روښان دے او بیا دغه دود پسې راتلونکو ګڼ شمېر لیکوالانو پاللے او غزولے دے. چونګ د خروار په بېلګه د ځینو لیکونکو او د هغوی د مکالمو یادؤنه او ځیر کتنه بې ګټې نۀ پاتې کېږي.

پیر روښان (۹۲۷ هـ ۹۸۳ هـ) د پښتو ژبې، ادب او تاریخ په ترڅ کښې د یو فلسفي، پښتون قام پرست، مذهبي لارښود، اروا پوهـ او ژبپوهـ په نامه یادیږي. خېرالبیان چې د دۀ یوه خوندوره او ګټوره زېږؤنه ده، د پښتو ادب د دوهم پړاؤ نۀ یواځې وړومبے نثري لیک دے بلکې یو شمېر نور اولیتونه هم په خپل نوم کوي. بیا دغه سپړلې لارې ئې پسې راغلو لیکونکو ښې پاللې او ستائیلې دي. یو شمېر داسې لیکوالان تر سترګو کېږي چې د خپل فني او فکري چلن له پاره ئې د خېرالبیان د قلم خاپونه غوره ګڼلي دي. په خپلو بیانونو کښې د زور او اغېز شتۀ کولو له پاره ئې د نوموړي کتاب دود منلے او پاللے دے لکه پښتو ادب ته تصوف معرفي کول، هنري نثر لیکل، د فارسي او عربي توري کارول، تبلیغي او مقصدي لیک کول، له نورو ژبو څخه په مفغن شکل کښې توري راوړل او ځینې نور. له دغو ځانګړتیاو څخه ئې یوه هم د وېنا مکالماتي انداز دے چې وروسته ښۀ نازېدلے دے. روښان لیکي:

راوښیه و ماته روا کلمه د شهادت، نمونځ، روژه، زکات، حج او احرام او سبحان. او بایزید: کلمه د شهادت مې د هغو روا کړې ده هر چې ئې نمونځ، روژه، زکات روادي له ادمیان. مونځ، روژه، زکات، حج عبادت مې د هغو روا کړي دي چې ئې کابې غفلت بې حرام. چې ئې زما پېژندګلي په یاد د زړۀ په حضوري وي، په دین د اسلام..... راوښیه وماته د استنجا فرض، واجب، سنت او مکروهي په خپل فرمان او سبحان. او بایزید: استنجا د اوبو د خاورې ده. استنجا د اوبو فرض، واجب، سنت ده عیان. که د استنجا ځاے له درمه زیات پلیت وي، وله ئې فرض، که څودرم وي وله ئې واجب، که له درمه کم وي وله ئې سنت دي او مکروهات ئې ناستے و کعبې وته، کاتۀ د شرم ځاے وته، وئیل د کیسې او د استنجا ځاے بې عذره په ښي لاس وله دي په ادمیان. (۱)

په ډاګه ده چې دا مکالمه د پیر روښان او لوے خداے تر منځه د سوال او ځواب او مرکې بڼه لري. په ښۀ ډول د فقهي مسئلو د پوهؤنې مخه او موخه لري. اسلوب ئې فني او هنري دے او نغښتے مقصد په سم او اغېزمن ډول برسېره کوي. دا ډول اسلوب بایزید انصاري د یو الهامي

لیک په حېث د شیخ عبدالقادر جیلاني د رساله غوثیه تر تاثیر لاندې راخپل کړے او په پښتو کښې دود کړے دے. د دې حقیقت څرګندؤنه پیر روښان د کابل د مشر قاضي چې قاضي خان نومېدۀ، تر وړاندې کړې ده. ډاکټر زبېر حسرت د پیر روښان وېنا داسې رانقل کوي، "لکه څۀ رنګ چې په غوث اعظم حضرت شیخ عبدالقادر جیلاني د الهام به طور "غوثیه" نازله شوې وه، خو عام اولس د وحي او الهام تر منځه فرق نۀ شي کولے." (۲) د پیر روښان نه پس مرزا خان انصاري دغه مکالماتي انداز پاللے او قدرولے دے.

مرزا خان انصاري (۹۸۸هـ ۱۰۴۰هـ) د نورالدین زوے او د پیر روښان نوسے دے. نوموړي د ژوند په وروستۍ موده کښې د مغلو سره جوړه اوکړه. خان جهان لودهي چې د هند د پښتنو یو پېژندلے مشر وۀ، د شاه جهان سره ئې زړۀ بداوے پېدا شو. په ۱۰۴۰هـ کښې بادشاه د هغۀ د وهلو له پاره د بهادر خان او اعظم خان په مشرۍ کښې یو فوځي ټولګے دولت آباد دکن ته اولېږلو. په دې شاهي فوځ کښې مرزا خان انصاري هم شامل وۀ چې د جګړې په دوران کښې د لودهي د لښکر له لاسه مړ شو. د پیر روښان د مسلک او کورنۍ غړے وۀ. بیا "د دې کورنۍ یو مشهور شاعر او خپل دیوان ئې په درې برخو کښې ترتیب کړے دے." (۳) د خپل نابغه نیکۀ د دود کړې روښاني تصوف یو غښتلے مبلغ دے. د خپل فلسفیانه انداز او زړۀ راښکونکي تغزل له لارې ئې پښتو غزل تر بامه خېژولے دے. د دوي په کلام کښې هم د مکالمه نویسۍ یوه غوره نمونه تر سترګو کېږي چې شمع او پتنګ عنوان لري:

زۀ چـــې ســــتا شــــمعې ثنــــا کــــړم
تـــا عاشـــق پــــه خپـــل رښــا کـــړم
ســــــر ښـــــندمه بـــــې اختیـــــاره
چـــې برپـــاې د عشـــق ســـودا کـــړم
شـــــــمعې ووې بـــــــې وفــــــا دے
دا امېـــد چـــې ســـتا پـــه خـــوا دے
تـــۀ پـــه خپلـــه خوښـــۍ درومـــې
غلـــــط کـــــړے دې پېشـــــوا دے
هـــــر چـــــې بــــې رهبـــــره ګرځـــي
لــــه مقصـــوده بــــې نـــوا دے(۴)

مرزا خان انصاري په دې خوندوره مکالمه کښې د پير روښان د ښوونې سره سم د کامل پير شتۀ توب د سالک له پاره اړين ګرځولے دے۔ څکه خو مهجور صاحب وائي: "مرزا خان د خیر البیان دغه مذهبي پېغام او فکري انداز د فن د باریکیو په ګڼون په یوه داسې صورت کښې وړاندې کړو، چرته چې فکر او جذبه دماغ او زړۀ دواړه متحرک او په ځپو وي." (۵) د مکالمه نويسۍ دا روايت د پښتو ژبې او ادب پلار خوشحال خان بابا هم نازولے دے۔

خوشحال خان خټک (۱۲۱۳هـ ۱۲۸۹هـ) چې کان په کان تورزن دے، د پښتو ژبې يو داسې شاعر او اديب دے چې لا تر اوسه ئې په درست افغان کښې سارے پېدا نۀ شو۔ په پښتو شعر او ادب کښې ئې د ګڼ شمېر اصنافو او مضامينو امبار لګولے دے۔ مغموم صاحب په ځاے وائي چې: "خوشحال بابا يو همه ګير شاعر وۀ۔ د هغۀ په ديوان کښې د هر قسم افکار، خيالات او مضامين موندے شي." (۶) خوشحال بابا په مکالمه نويسۍ هم خپل چاق قلم چلولے دے۔ د بېلګې په توګه:

وې مې کـه زۀ درشـم سـتا تـر ځايـه خُلـۀ بـه راکـړې
وې ئـې څکـه هـزار سـره لـري چـې دا وېنـا کـړې
وې مې چې پـه مخ دې تـوري زلفـې تـور ښـامار دے
وې ئـې تروڅکـه څـۀ لـره ښـامارو تـه وېسـا کـړې
وې مـې چـې پـه تـا پسـې هـر ګـوره لېـونے يـم
وې ئـې چـې پـه دا عقـل بـه لا صـورت رسـوا کـړې

يا دا چې:

وې مې څـوک دے چې همېش پـه بـل بـل حـال دے
وې ئـــې خـــوار بنـــي آدم لـــري دا حـــال
وې مـــې کـــوم ســـړے لائـــق دے د يـــارۍ
وې ئـــې هـــر چـــې دروغ نـــۀ لـــري ټيټـــال(۷)

د خوشحال بابا د دې مکالماتي نظمونو محتوه د مينې جذبې او واردات دي او اخلاقي ښوونې لار ښودنې په کښې هم ځاے شوې دي۔ د مکالمه نويسۍ دود د بابو جان په نثر او نظم کښې هم تر سترګو کېږي۔

بابو جان (۱۲۲۴ء ۱۲۹۴ء) د اخون درویزه د ادبي مکتب غړے دے چې د شریعت او فقهې د اشاعت له پاره ئې د نظم او نثر په شکل کښې پنځه زېږونې د پښتو ادب برخه جوړه کړې ده. استاذ حبیبي وائي: "د دهٔ کلام اکثر وعظ و نصیحت دیني مسئلې او مضامین لري." (۸) د اسلام د سپین سپېڅلي دین، په ایمانیاتو، عباداتو، معاملاتو، فقهي مسائلو او په نورو علمي او اخلاقي موضوعاتو د پښتنو د پوهولو له پاره ئې په خلاص مټ قلم چلولے دے. د نثر نګارۍ تر څنګه د شعر په خوږه او الهامي ژبه د خپل فکر نغمې غږوي. کله غزل، کله نظم او کله قصیده لیکي. کله د اورنګ زیب ستائینه او کله د اخون څلاک مرثیه لیکي. کله د تصوف په خوږو لړلې قصیده او کله د شمعې او پتنګ مکالمه لیکي. په نثري بڼه ئې د مکالمه نګارۍ بېلګې د نمونې په توګه راوړل غوره دي:

"عبدالله د سلام زوي سوال ئې اوکړو وې حضرته. زمکه څهٔ ده راته وایه اے صاحب د نبوته. حضرت وې چې له ځګه، ځګ له بحره، هغه بحر له ظلمته. عبدالله وې چې په څهٔ څیز شوه قراره. حضرت وې چې په غرونو، بیا د غرونو محکمي د کوهِ قاف له برکته. عبدالله وې قاف د څهٔ دے راته وایه. حضرت وې زبرجد دے پیدا شوے له قدرته. عبدالله وې پنهائي به د قاف څو وي. حضرت وې دا دوه نیم زره کاله لار ده له محنته. عبدالله وې چې د قاف په هورته څهٔ دي. حضرت وې اویا زمکې دي د مښکو، د هغو خلقو مشغولا له تسبیحته." (۹)

د نظم په بڼه هم بابو جان یوه مکالمه سنجولې ده چې د پتنګ و بتۍ عنوان لري:

حکایـــــــــت دے لـــــــــه پتنګـــــــــه
رد بـــــدل ئـــــې لـــــه بتـــــۍ وهٔ پـــــه څـــــو رنګـــــه
بیـــــــا پتنـــــــګ وئیـــــــل بتـــــــۍ
خپلخانـــــه د پتنګـــــانو شـــــي ســـــتۍ
ښـــــخې دي زمـــــا پـــــــه زړهٔ د اور شـــــــتۍ
چـــــې واورې د اور لـــــــه شـــــــرنګه (۱۰)

د بابو جان ورومبۍ یاده شوې نثري مکالمه د لوے خدائے د لوے قدرت ښکارندوئي کوي او دویمه ئې د تصوفي فلسفې څرګندوئي کوي. مطلب دا چې بابو جان هڅه کوي چې د مکالمې په لمن کښې بېلا بېل موضوعات راونغاړي او د دغه کار وس او وړتیا هم لري. دغه شان اشرف خان هجري هم مکالمه نګارۍ ته په درنه سترګه کوري.

اشرف خان هجري (۱۰۴۴هـ) د خوشحال خان خټک زوے او د هغهٔ د قلم رښتونے وارث دے. د زړهٔ تخ مخ کوؤنکي سوز و ګداز په رنګ او اهنګ کښې د زنداني، بې څوکۍ او بې وطنۍ د شاعرۍ له پاره شهرت لري. د شعر په ژبه ئې د ځان ماتم په وینو کړے او د وطن کانې بوټې ئې ژړلي دي. شعري رياضت او تنقيدي شعور ئې دومره پوخ او ژور دے چې کوم شعر دهٔ منظور کړے دے، بې شکه معتبر دے. دې نابغه شاعر هم مکالمه نويسۍ ته درناوے وربخښلے دے او د مکالمې روايت ئې په وړاندې غزولے دے. د دهٔ په کلام کښې يوه مکالمه تر سترګو کيږي چې د مينه وړو اکرو تر څنګه د ظرافت، فکاهيت، مزاح او مهذب تنقيد په زړهٔ پورې فنپاره ده. ليکي:

وې ئې څو په ما مئين ئې حال ظاهر کړه
شايد ورسې عاشقهٔ و ارزو ته
ما وې هومره وکتو ته منتظر يم
چې به نه وې هيڅ ملا د چا ومړو ته
ما وې زهٔ ئې پرده لري کړم د مخه
چې دا حال دې برهنه شي و ديدو ته (۱۱)

اخون قاسم چې د ۱۰۲۰هـ شاو خوا ئې ژوند کولو، په قام پاپين خېل ياديږي. د شينوارو او اشنغر په سيمو اوسېدلے دے. د اخون درويزه د ادبي مکتب غړے دے. د فوائدالشريعه په نوم يو نثري ليک لري چې موضوعات ئې فقهه او سيرت النبيﷺ دي. د ليک انداز او علميت ئې ډېر خوندور دے، څکه خو بي بي مريم ليکي چې، "فوائد الشريعه په مذهبي، علمي او ادبي لحاظ سره يو اهم کتاب دے." (۱۲) د دې ليک د سيرت النبيﷺ په برخه کښې مکالمه تر سترګو کيږي. ليکي: "روايت دے هسې شوے چې جابر هسې وئيلي، چې اصحاب مونږه سره له سرور صاحبه وو. د مردارې بد بوي مونږ لره راغے. سرورﷺ هسې راته ووې، چې نهٔ پوهيږئ چې دا ګنده بوي د څهٔ دے. اصحابو هسې ورته اووې، نهٔ پوهيږو. حضرتﷺ هسې ورته اووې، چې غيبت کاندي د خلقو دا د هغوي د خلې بد بوي دے." (۱۳)

د کلاسيکي دورې يو شمېر نورو ليکوالانو هم د مکالمه نويسۍ روايت نمانځلے او مقبوله کړے دے. دغه انداز خواصو او عوامو تر دې پولې خوښ کړے دے چې اولسي شاعرانو د جوابي ټپو رغولو او د چاربېتو استاذانو د مکالماتي چاربېتو ليکلو تابيا کړې ده. د نوي دور د ځينو نامتو

لیکونکو لکه اجمل خټک او غني خان ځینې شاهکار مکالماتي نظمونه هم د کلاسیکي دورې د دود کړي روایت لړۍ ګڼل په ځاے او روا دي.

له دې بحث څخه جوتیږي چې:

۱. د پښتو ادب په تاریخ کښې په وړومبي وار مکالماتي انداز د پیر روښان خیرالبیان دود کړے دے.
۲. دا هم باید په یاد پاتې شي چې د نصر لودهي او حمید لودهي یو تر بله د شعر په ژبه سوال و ځواب د مکالمې نۀ بلکې د خط و کتابت ځاندره لري.
۳. په پښتو ادب کښې مکالمه نګاري د نثر او نظم دواړو په شکل کښې تر سترګو کیږي.
٤. پیر روښان مکالماتي انداز د شیخ عبدالقادر جیلاني د رساله غوثیه تر اغیز لاندې پښتو ته راوړے دے.
٥. د کلاسیکي دورې یوشمېر لیکونکو مکالمه نویسي په خپلو وېناؤ کښې سنجولې ده چې مرزا خان انصاري، خوشحال خان خټک، بابو جان، اشرف خان هجري او اخون قاسم په کښې د سر سړي دي.
٦. په مکالمه کښې د تصوفي افکارو او فلسفې تر څنګه د میني احساسات او اخلاقي ښوؤنې هم خوندي شوې دي.
۷. د اولسي شاعرۍ سره سره په جدید شاعرۍ کښې ئې هم غوره نمونې موندے شي.
۸. مکالمه نویسي د ابلاغ اغېزمنه وسیله ګڼلے شي.

ماخذونه


۱) انصاري بايزيد روښان، خيرالبيان، مدون، حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي، پېښور، پښتو اکېډيمي، پېښور پوهنتون، دويم ځل، ۱۹۸۸ء، مخ، ۲۱۱ـ ۲۱۴

۲) حسرت محمد زبير، روښانيان او خوشحال، مردان، د ادبي دوستانو مرکه، ۲۰۰۴ء، مخ ۱۵

۳) نيازي شهسوار سنگر وال، د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ، پېښور، د احمد شاه ابدالي پوهنتون، ۱۹۹۷ء، مخ ۱۲۵

۴) انصاري مرزا خان، د ميرزا خان انصاري ديوان، مدون، ډاکټر پرويز مهجور خويشکي، پېښور، پښتو اکېډيمي، پېښور پوهنتون، ۲۰۰۴ء، مخ، ۲۱۷ـ ۲۱۸

۵) خويشکي پرويز مهجور، ډاکټر، مقدمه، مشموله، د ميرزا خان انصاري ديوان، مخ، "يو"،

۶) خټک يار محمد مغموم ډاکټر، مقدمه، د خوشحال خان بابا کليات، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسي، ۲۰۱۲ء، مخ، ۷۴

۷) خټک خوشحال خان، د خوشحال بابا کليات، مدون، ډاکټر يار محمد مغموم خټک، مخ، ۵۸۰ـ ۹۲۰

۸) حبيبي عبدالحئي، پښتانهٔ شعراء، اوله حصه، بنو، پښتو ادبي مرکز سرايې نورنگ، ۱۹۸۴ء، مخ ۵۳

۹) بابو جان، قلمي نسخه، مملوکه، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون کتابتون، اندراج نمبرات، ۱۳۹ـ ۳۳۹

۱۰) بابو جان، قلمي نسخه، مملوکه، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون کتابتون، اندراج شمېر، ۴۹۲ـ

۱۱) هجري اشرف خان، ديوان اشرف خان هجري، مدون، همېش خليل، پېښور، پښتو اکېډيمي، پېښور پوهنتون، ۲۰۰۱ء، مخ ۴۰۴

۱۲) بي بي مريم، د پښتو نثر تاريخي او تنقيدي جائزه، ناشر پخپله، ۱۹۸۲ء، مخ، ۱۷۰

۱۳) اخون قاسم، فوائدالشريعت، پېښور، اليشر سنگ و چهجوسنگ، ۱۳۰۲هـ، مخ ۲۴